AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۲/۰۵/۰۷

# د روسېې اټومي برید او د دریمې نړیوالې جګړې ګواښ

د اوکراین جګړې لاملونه او مخنیوي:



په اروپا کې د سولې او امنیت په اړه د لویدیځوالو سیاستوالو اندېښنې په داسې حال کې مخ په زیاتیدو دي، چې روسیه په اوکراین کې تر بل هر وخت د خپل ټول وسله وال ځواک سره ناټو هیوادونو ته د اټومي برید مستقیم ګواښونه کوي. په روسیې رسنیو کې د پوتین د بهرنیو چارو وزیر خبرې داسې تفسیر کیږي ,, موږ په دې نه ویاړو، که اړتیا وي، موږ به یې وکارو، موږ غواړو هر څوک په دې پوه شي,,. ظاهراً داسې برېښي چې د پوتین دا جګړه د اوکراین د کرکیچ په اړه ده، خو په نهایت کې دا جګړه د اروپا بیا نوي منظمولو او تنظمولو لپاره ده، که لږ نوره ژوره دقیق فکر وشي، دا جګړه د نوی نړیوال نظم لپاره پیل شوې ده. له دې امله د دویمې نړیوالې جګړې ورسته د اوکراین جګړه تر ټولو لوی ګواښ ګڼل کیږي. اوکراین د ناټو غړی هیواد نه دی. دغه هیواد تر اوسه په دې ویجاړونکې خونړۍ جګړه کې د روسانو په وړاندې یوازې ولاړ دی.

د 1990 لسیزې په لومړیو کې نړۍ د سړې جګړې پای اعلان وکړ. خو وسمهال یو ځل بیا هغه دواړه ختیځ او لویدیځ بلاکونه د خپلو اټومي وسلو سره یو بل ته مخامخ ولاړ دي. ایا په ریښتیا د دې وخت راغلی، څو بیا خلک د هستوي وسلو ضد خوندیځونې یا ځمکتلونو جوړولو په اړه فکر وکړي. د سړې جګړې پر مهال یوازې دې مفکورې خلک ویرول، چې لویدیځ او ختیځ کولی شي، د سړې ټنۍ په تېنګولو سره یو بل له منځه وړلی شي.

وسمهال د دریمې نړیوالې جګړې وېره تر یوې محدوې کچې پورې په ریښتینې مانا سره شتون لري، خو په حقیقت کې دریمه نړیواله جګړه لا د مخ پیل شوې ده. د اوکراین خونړۍ جګړه د دوېمې نړیوالې جګړې ورسته تر ټولو



ستره خونړۍ جګړه ده. پر اوکراین باندې د پوتین یرغلېزې جګړې ورځ د اروپا لپاره تر ټولو توره او بدترینه ورځ ګڼل کیږي. پر اوکراین باندې د پوتین برید د جرمني په ګډون پر ټولو اروپایي هیوادونو باندې ناوړه اغیزه کړې ده. پوتین د ټولې لویدیځې اروپا د ارزښتونو سیستم په وړاندې د تباهۍ جګړه پر مخ بیایي. له همدې امله سویډن، فنلېنډ، ایرلېنډ او ان د سویس په څېر هیوادونه د ناټو ټلوالې غړیتوب منلو ته مجبور شوي دي. دغه هیوادونه تر اوسه په هېڅ کوم پوځې تړون کې غړیتوب نه لري، خو په اوکراین باندې د روسېې برید راهیسې د دوی ناپیلتوب تر پوښتنې لاندې راغلی.

همداوس سویډن او فنلېنډ په زرګونو زغرولې درنې وسلې روسیې ته ورڅېرمه په پوله کې ځای پر ځای کړې دي. فنلېنډ او روسیه 1300 کیلو متره ګډه پوله لري. په 1917 کال کې فنلېنډ د تزاري روسي امپراتورۍ څخه خپله خپلواکي ترلاسه کړې، دغه ګاونډی هیواد د پوتین جګړې تر مستقیم ګواښ لاندې دی. په هلسنکي کې د فنلېنډ دفاع وزارت ویاند وویل، چې روسېې چورلکې څلور پینځه کیلو متر د دوی هوایي حریم ته ورننوتلي دي.

د Insa for Bams په نامه انیسټیټوټ د یوې ټولپوښتنې او سروې له مخې لیکي: په جرمني کې ۷۳ سلنه جرمنیان د دریمې نړېوالې جګړې اندېښنه لري. د اوکراین جګړه کیدای شي، په دریمه نړیواله جګړه واړي. ۲۱ سلنه جرمنیان بیا دا اندېښنه نه لري. ۷۸ سلنه په دې باور دي، چې پوتین به اټومي وسلې وکاروي. ۱۴ سلنه جرمنیان بیا دا اندېښنه نه لري.

وسمهال جرمني کې د جګړې سخته ویره خپره شوې ده. جرمني غواړي د درنو وسلو په لیږدلو سره سوله په اوکراین کې ټینګه کړي. په ختیځه اروپا کې جګړه لویدیځه اروپا له جدي امنیتي او اقتصادي ګواښونو سره مخامخ کړې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رااليږلو مخکې په ځیر و لولئ

په جرمني کې د اوکراین سفیر اندري میلنک د جرمني حکومت ته خبرداری ورکړي ،، په اوکراین کې د روسېې بریا به تر ټولو بدترینه عواقب او پایلې جرمني هیواد ته ولري.
د دریمي نړیوالي جګړې د ګواښ خبرداری د روسېې د بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف هم ورکړی دی. د روسېې بهرنیو چارو وزیر په ښکار توګه خبرداری ورکړي، چې که ناټو په ریښتېني توګه د ډیفکتو نیابتي جګړې له لارې د روسېې په وړاندې جګړې ته لاړ شي او اوکراین ته وسلې ورکړي، بیا سړی په جګړه کې هغه څه کوي، کوم چې سړی باید وکړي. روسي بهرنیو چارو وزیر وویل: ،، د دریمي نړیوالي جګړې ګواښ جدي او ریښتېنی،، دی. هغه ویلي، چې دې ګواښ ته باید په کمه سترګه ونه کتل شي. د اوکراین جګړه په نړیواله جګړه بدلیدای شي. دې نړیوالې جګړې ته به ټول دولتونه وروښویږي او ورولویږي. سرګي لاوروف ښه پوهیږي، چې دا هغه څه دي، چې د کرکیچ ټول اړخونه یې مخنیوي غواړي. لویدیځو دولتونو روسېې پر وړاندې جګړې لپاره اوکراییني ځواکونه تر غاښو پر وسلو سمبال کړي. له دې امله د روسېې ولسمشر اوکراییني ځواکونو ته د وسلو لیږد د درریدو غوښتني کوي او وایي: اوکراین ته د ناټو لیږدونکي وسلې به د دوي لپاره مشروع پوځي موخې وګڼل شي او برید به پرې وکړي او په کلکه خبرداری ورکوي، چې اوکراین ته دې پوځي مرستې نه استول کیږي.
په داسې حال کې د امریکا ولسمشر بایډن پوتېن ته د یرغل له امله د سزا ورکولو ګواښ کړي دی. اروپايي ټولنه پوتېن ته ګواښ کړي، چې پر اوکراین د یرغل ستره بیه به پرې کړي او ورسره د نورو اقتصادي بندیزونو لګولو اعلان هم کړي دی. روسيي جنرالان یې په جنګي جرمونو تورن کړي دي.
پوښتنه دا ده، چې د جګړه مار بې باکه پوتېن اټومي برید ګواښ څومره واقعي دی، ایا د کرملین مشران په ریښتیا سره د جګړې ګټلو لپاره هر څه ته چمتو شوي دي.؟
په اوکراین کې د پوتین په جګړه کې د ګرځنده یا موبایل اټومي وسلو کارولو احتمال شته. روسیه له دوو میاشتو راهیسې له اوکراین سره په سخته جګړه کې بوخته ده. په اروپا کې د دې خونړۍ جګړې پای نه تر سترګو کیږي. داسې بریښي چې روسیه د خپلې جګړې په لسمه اونۍ کې په ختیځ اوکراین کې د یوې نوي پوځي کړکیچ سره مخامخ شوې ده. روسېې یرغلګرو ځواکونو زیات پرمختګ کړي دی، خو د پامور پرمختګونو په تر لاسه کولو کې پاتې راغلي دي. د اوکراین وسله والي شخړې د هوارولو هڅې د ډیپلوماتیکو لارو چارو او د خبرو اترو شالید له پامه غورځولي شوي دی. لنډه دا چې ټولې ډیپلوماتیکي هڅې ناکامې شوی دي.
وسمهال په اروپا کې د اروپایي سیاستوالو له خوا د روسانو په وړاندې د درنو وسلو له لیارې د اوکراین شخړې د حلولو لپاره د وسلو په ژبه خبرې پیل کړي دي.
اوکراین ورو ورو د روسېې لپاره په دویم افغانستان بدلیږي. کله چې پخوانی شوروي اتحاد یرغلګرو ځواکونو افغانستان اشغال کړ، روسان لس کاله ورسته په یوه بیساري شرمونکي ماته کې له افغانستانه ووتل. امریکایي او د اروپایي ټولنې سیاستوال د اوکراین په جګړه کې بیره نه کوي، دوی ورو ورو هڅه کوي، څو په اوکراین کې د افغانستان په څېر یوه بله ورته سناریو روسانو ته چمتو او تکرار کړي. که د اوکراین جګړه پېنځه کاله دوام وکړي، د روسېې اقتصاد به له بشپړ سقوط سره مخامخ شي.



د بالتیک سمندرګې په غاړه کې په کالینینګراډ کې روسي ځواکونه د اټومي برید د انډولو لپاره پوځي تمرینات پیل کړي دي. له دې سره د اوکراین په جګړه کې د اټومي جګړې په اړه اندېښني مخ په زیاتیدو دي.
د ماسکو مشرانو په وینا، دوی د بالستیکي توغندیو سیستم ،، الکترونیکي سټاټ،، یوه ازموینه تر سره کړي، د روسانو دغه اټومي تمرینات باید د یوې مخامخ اټومي جګړې سیګنال په توګه وانګیرل شي.
د ماسکو خبرې سر چینو په حواله؛ د اوکراین جګړې پر مهال په کالینیګراډ کې روسي ځواکونو د اټومي ټوان درلودونکو توغندیو سره تمرینات پیل کړي دي. د روسېې دفاع وزارت تائید کړي، چې د دې تمریناتو په یوه برخه کې شاوخوا د سلګونو روسيي سرتیرو د اټومي وسلو سره د ګرځنده اسکندر ډوله بالیستیکي توغندیو سیستم ،، الکترونیکي سټارټ ،، په نامه پوځي مانوروته ترسره شوي دي.
کالینینګراډ د بالتیک سمندرګې په غاړه کې د روسېې یوه سیمه ده، چې د اروپایي ټولنې او د ناټو د دوو غړو هیوادونو پولنید او لیتوانیا ترمنځ پرته سیمه ده. له همدې امله دلته نه د دې اټومي تمریناتو ځای او نه د دې تمریناتو وخت د یو تصادف له مخې غوره کړل شوي دی. په اوکراین کې د جګړې په پیل کې ولسمشر ولاډیمیر پوتېن د روسېې اټومي وسلو کارولو ته چمتووالی ښودلی دی. د روان کال د فبرورۍ میاشتې په وروستیو کې روسېې خپل اټومي ځواکونو ته د تیارسئ امر ورکړي دی.



اوکراین به له جرمني څخه تر پنځوسو ډیر ،، ګیپارټ،، ډوله د الوتکو ضد ټانکونه چې په نړۍ کې تر ټولو پرمختللي او مجهز ټانکونو څخه ګڼل کیږي، تر لاسه کړي. دغه ټانکونه د هوایي او ځمکني پوځي موخو د ویشتلو لپاره ځنبت ډېر مؤثر کارول کیږي. همدارنګه د هوبیڅه ټانکونه او د نړۍ تر ټولو مدرن پرمختللي توپخاني سیستم یا د درنو زغرولو وسلو سیستم ورکوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

جرمني له اوکرايين سره د نورو درنو وسلو، پوځي مهماتو، پوځي تجهيزاتو او نغدي پيسو ورکولو کې غوښنه مرستې کوي. د جرمني سياستوالو استدلال کوي، چې د روسيې دغه بريد زموږ پر آزادۍ، ډيموکراسۍ او زموږ پر ټولو ارزښتونو باندې بريد دی. له همد امله جرمني د اوکرايين ملاتړ لپاره د جګړې سيمې ته درنې مدرنې وسلې ليږي. دغه مهمه پرېکړه د جرمني په ولسي جرګه يا بونډسټاک کې ان د زرغون ګوند لخوا هم تصويب شوه. د جرمني زرغون ګوند يوازېنی ګوند دی، چې د جرمني د سولې غورځنګ څخه راپورته شوي ګوند دی. دغه ګوند په سوله ييزې ايډيالوجۍ باندې کلک باور لري. د جګړې له ويرې دغه سوله پال ګوند د جګړې پلوي ګرځيدلي دی. پخوا د جګړې تګلاره دوی ته هيڅکله د منلو وړ نه وه.
د جرمني چانسلر او د سوسيال ډموکرات ګوند مشر اولاف شولځ نوی دريځ خپل کړي، هغه وايي، د هر ډول سوله ييزې تګلارې او هڅو ملاتړ کوي او درنښت ورته کوي، خو موږ اوکراييناو ته دا نه شو ويلې، چې تاسو پرته له وسلې د روسانو ديرغل پر وړاندې د ځان څخه دفاع وکړئ. جرمني اوکرايين ته د درنو وسلو په ليږلو پيل کړي دی.
په ورته وخت کې روسيه هڅه کوي، هغه سيمې چې نيولي دي، له اقتصادي او ادارې پلوه په خپل واک کې لري، له روسيې سره د يو ځای کولو لپاره چمتووالی نيسې. په داسي حال کې چې د متحده ايالات د اوکرايين لپاره په پراخه کچه د نوي پوځي مرستو تصويبولو او چمتو کولو کې بوخته ده. د امريکا متحده ايالات حکومت په سناکې د اوکرايين لپاره د بيسارو سترو پوځي مرستو چمتوکولو باندې کار کوي. اروپايي ټولنه د روسيې د تيلو او ګازو بندولو لپاره ځان چمتو کوي. د جرمني اقتصاد د روسيې په تيلو او ګازو باندې تکيه لري. بريتانيا اوکرايين ته د لرې واټن ويشتونکو وسلو پر ورکولو بحثونه کوي.
د جرمن سياستول او د اقتصاد وزير د خپل هيواد په مجبوريتونو او کمزوتياو باندې ډېر ښه پوهيږي او د خلاصون لپاره په نورو لارو چارو باندې لاس پورې کړي دی.
همدارنګه اروپايي ټولنه د روسيې د تيلو او ګازو د بندولو لپاره ځان چمتو کوي. پوټين اوس هڅه کوي، څو د اوکرايين نيولي شوي سيمې له اقتصادي او ادارې. پلوه له روسيې سره مدغمې کړي.
د نيويارک ټايمز په حواله، د امريکا استخباراتي مامورين د روسيې پر جنرالانو باندې په هدفي بريدونو کې او د روسي کښتۍ په ډوبولو کې د اوکراييني ځواکونو سره استخباراتي مرستې کړې دي.

د اوکرايين جګړې لاملونه څه دي، ايا د دې جګړې مخنيواې کيدای شو؟
اوکرايين د سړې جګړې پر مهال د ګټونکو او بايلونکو ترمنځ د جيو پوليټکلي لوبې يو ټوپ رول لوبولو. همدارنګه د دريو لسيزو راهيسې د ختيځ او لويديځ تر منځ د حايلي سيمې په توګه د ناټو تر اغيز لاندې وه. پوټين په خپله روسيې نړۍ او تفکر کې د جګړې له لارې غواړي، په اروپا کې د خپل نفوذ ساحه پراخه کړي او خپلې پولې اروپا ته وروغځوي. همدا ډول ناټو د لويديځې اروپا په پولو کې تم کړي. پوټين غواړي اوکرايين د روسيې او ناټو ترمنځ يوه حايل سيمه پاتې شي. پوټين غواړي، په کيف کې خپل لاسپوڅی رژيم نسب کړي. د پوټين لپاره اوکرايين په تاريخي توګه د روسيې هيواد يوه برخه ده.
لويديځ کولی شول د اوکرايين په وړاندې د روسيې يرغليزې جګړې مخه نيولې واې. لويديځ د روسيې په يرغليزه جګړه کې پوره خپله ملامتيا لري. جګړې هيڅکله ناګرېزه يا اجتناب ناپذيزه نه دي، خو جګړې د غلطو يا ناسمو پريکړو پايلې ده. د روسيې سره د ناټو ناسته او خبرو اترو له لارې د اوکرايين جګړې مخه نيول کيداې شوه. اوکرايين بايد د دواړ خواو ختيځ او لويديځ ترمنځ بايد د يو پل حيثيت غوره کړي واې. خو که ټولو اړخونو د اوکرايين د ژوندي پاتې کيدو، د سوکالۍ هيلې او د سولې اراده درلوداې. د جګړې ټول اړخونه بايد د اوکرايين هيواد ته د ختيځ او لويديځ ترمنځ د يو پل په توګه قايل شوي واې. له دې لارې په اوکرايين کې د جګړې مخه نيول کيدای شوه، که چيرې لويديځوالو د اوکرايين د بې طرفي په اړه مخکې له مخکې سم غور او فکر کړي واې. لويديځوالو سياستوالو هېڅکله د اوکرايين ناپيلتوب ته پام نه دی کړي او دا موضوع دوی هېڅکله نه ده مطرح کړي. دوی هېڅکله د يو ناپيلې اوکرايين وړانديز نه دی وړاندې کړی. تر کومه ځايه چې موږ پوهيږو، لويدځوالو په دې اړه له هېچا سره خبرې اترې هم نه دي کړي. موږ پوهيږو، چې اوکرايين د روسيې د ملي ګټو لپاره حياتي ارزښت لري. اروپايانو بايد دا وړانديز کړي واې، چې اوکرايين بايد يو ناپيلې هيواد پاتې شي او د هيڅ يوه پوځي ايتلاف غړی دې نه ګرځي، څو د روسيې په وړاندې ونه کارول شي. سړی نه پوهيږي، په دې اسانه خبره باندې اروپايان څنګه نه پوهيدل، که دوی نه غوښتل چې وپوهيږي. داسي مالوميږي، چې لويدځوالو ته د جګړې د مخنيوي لپاره د ډيپلوماتيک حل لارې بيه او لګښت، د جګړې د لګښته په پرتله ډير لوړ وه. اوس د اوکرايين او اروپا برخليک د جګړې په ډګر کې ټاکل کيږي.
پوټين يو امپرياِل فرصت غوښتونکی يا ,, اپورتونيست امپراتور,, اوټوکرات شخصيت دی. د روسيې سياسي مشرتابه او پوځي مشران لا تر اوسه د اروپا د امنيتي سيستم په اړه د نولسمې پيړۍ په فکرونو کې ډوب دي. روسان فکر کوي، چې يو لوی ځواک بايد شتون ولري، څو د اروپايي وچې امنيت تامين او اداره کړي. لکه څنګه چې د ناپيليون د جګړو ورسته داسي يو صورتحال وه. پوټين څو ځله ويلي، که روس پاتې نه وي، نو نورې نړۍ ته څه اړتيا ده. دا په دې مانا ده، چې که چا له روسيې سره د دوی د تمې خلاف چلند وکړي، هرڅه به تباه شي. پوټين ويلي: که هر چا له بهره په دې موضوع کې لاسوهنه وکړه، هغه دې پوهه شي، چې په تاريخ کې به له بيساري عواقبو سره مخامخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

شي. که څوک پر روسيې د ولکې کولو هڅه وکړي، موږ د ځواب ورکولو قانوني حق لرو. پوتېن له ناټو څه غواړي، روسېه له شاوخوا دوو میاشتو راهیسې له لویدیځه د ناټو نه پراخولو او د اوکرایین په اړه د امنیتي ګرانټي یا ضمانتونه غواړي. روسیه په اروپا کې د داسي يو سيستم پلې کولو لپاره هڅې کوي. کوم دولتونه چې لوی قدرتونه نه دي، دغه واړه دولتونه باید د ځواکمنو دولتونو پریکړو ته غاړه کیږدي. روسيې د دې غوښتنه هم کوي، چې متحده ایالات دې د ختیځې اروپا څخه د ناټو ټول وسله وال ځواکونه وباسي. امریکایان د روسانو دا غوښتنه د اصولو له مخې نه مني.
ایا پوتېن به له ناټو هیوادونو سره په اروپا کې د اټومي جګړې ډغرې ووهي. د روسېې وسله وال پوځ په هغه حالت کې نه دی، چې پوتېن تمه لري. له دې امله ښایې پوتېن جګړې ته زړه ښه نه کړي.
روسان د اوکرایین جګړې تر شا د اوکرایینیانو جګړه ییز سخت مقاومت کې د امریکا او لویدیځ لاس وینې. دوی فکر کوي د روسيې کمزوري کولو اراده لري. په عین وخت کې د اروپایانو اړخ داسي انګیري، چې روسیه یوازې د اوکرایین کمزوري کولو اراده نه لري، روسان تر دې لا نوره څه غواړي. روسان د لویدیځ د ارزښتونو بنسټېز نظم ماتول او په ټوله سیمه کې خپل نفوذ پراخول غواړي. که پوتېن اوس تسلیم شي، هغه به خپل حیثیت له لاسه ورکړي. پوتېن یو ستر سیاسي لید لوري او تاریخي ماموریت په سر کې لري، هغه په دې باور دی، چې دا ماموریت باید پوره ترسره کړي او غواړي د روسيې د تاریخ په کتابونو کې نوم ولیکل شي. هغه غواړي، چې روسیه لږ تر لږه له پوځي پلوه د يو ستر زبرځواک په توګه بیا راژوندی کړي.
پوښتنه دا ده، چې پوتین او د روسیې مشرتابه د خپلو ګواښونو سره څه کول غواړي، هغه کولي شي د خپلو ګواښونو څخه په شا شي او ټول ګواښونه بیرته واخلې او د تاوتریخوالي کچه بیرته له منځه یوسي، خو دا به په راتلونکي کې د هیواد په داخلي او خارجي سیاست د پوتېن حیثیت او اعتبار له لاسه ورکولو مانا ولري. په راتلونکي به د روسیې هر ډول ګواښونو ته په سپک نظر کتل کیږي او جدي به نه انګیرل کیږي.
څنګه سړی کولي شي، پوتېن د خبرو اترو مېز ته راولي، پرته له دې چې د دواړو خواوو حیثیت ته زیان ورسیږي. د دې کړکېچ ختمولو لومړی سناریو دا ده، چې روسیه په خورا شدت او وحشت سره جګړه ګټي. دویمه سناریو دا ده، چې په روسیه کې یوه پوځي کودتاه وشي، څو نوي رژیم خپل ټول سرتیري وباسي.
وسمهال د دې احتمال شته، چې پوتېن په خپل ټول پوځي ځواک سره د دې هڅه وکړي، څو د مۍ میاشتې تر نهمې نېټې پورې په اوکرایین کې پوځي بری ترلاسه کړي. څو خپله بریا د نازي جرمني پر وړاندې د بریا د ورځې په مناسبت ولمانځي. بل لوري ته د اوکرایین ولسمشر ولاډېمیر زیلینسکي د جرمني له چانسلر اولاف شولځ څخه غوښتي، څو یو ,, زړور ګام ,, واخلي، نوموړي دې د مۍ په نهمه نېټه له کیف ښار څخه لیدنه وکړي، په دغه ورځ روسیه په دویمه نړیواله جګړه کې د پخوانی شوروي اتحاد د بریا یادونه کوي او لمانځي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ